مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یک شنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۱۷مه | د ۲۰۲۱ د اګسټ ۸مه | ۷۵۸مه ګڼه

# د حکومت له امنیتي طرحې سره سره؛

## طالبانو په تېرو دوو ورځو کې د زرنج او شبرغان ښارونه تر خپلې ولکې لاندې راوستي



۳

## پوهنتون

۴ مخ



## نعمان سادات
### د لوړو زده کړو موسسه

نعمان سادات د لوړو زده کړو موسسې د خپلو محصلینو دې علمي سویې لوړاوي په موخه، پر هیواد دننه له ځینو بهرنیو پوهنتونونو سر تفاهم‌لیکونه لاسلیک کړي، چې له مخې یې کولی شي محصلین هلته د زده کړو لپاره ولېږي.

## کرني ریاست: په پکتیا کې پر لسګونو بزګرانو کیمیاوي سرې ووېشل شوې



د پکتیا کرنې او مالدارۍ ریاست اړوند د ژغورنې نړیوالې کمېټې له لورې د دغه ولایت د مرکز ګردیز، احمد اباد او سیدکرم ولسوالیو پر ۷۴ تنو اړمنو بزګرانو توره او سپینه سره وېشل شوې ده.

د پکتیا د کرنې ریاست د چارواکو په خبره، په یادو ګټه اخیستونکو کې ۲۵ تنه د مرکز ګردیز، ۲۵ تنه د احمداباد او ۲۴ تنه د سیدکرم ولسوالۍ اوسېدونکي شامل وو، چې هر بزګر ته ۵۰ کیلو توره او ۵۰ کیلو سپینه سره ورکړل شوې ده.
د دوی په خبره، تر دې وړاندې یادو بزګرانو ته د لوبیا تخمونه او نور کرنیز توکي هم ورکړل شوي وو. د یاد ریاست چارواکي وايي، چې د سرو له وېش څخه موخه یې د کرنې پر مټ د اړمنو کورنیو د اقتصادي وضعیت ښه والی او د لوبیا د حاصل زیاتوالی دی. له دغو مرستو څخه برخمن بزګران د خوښۍ ښودلو تر څنګ د کرنې ریاست له دوامداره همکاریو څخه مننه کوي.

## غربي تبلیغات تر جګړې ډېر خطرناک دي

۲ مخ

## ښار اور اخیستی

۲ مخ

## نیت مو دې مکې دی؛ خو روان یو برمودا ته!

۳ مخ

## عام خلک: امریکا او برېټانیا دې د افغانانو پر وړاندې روانه تبلیغاتي جګړه پای ته ورسوي

امریکا او برېټانیا تېره ورځ د دریم ځل لپاره د اعلامیو په خپرولو سره له خپلو اتباعو وغوښتل چې د امنیتي ستونزو له امله دې ژر تر ژره له افغانستان څخه ووځي. یادو سفارتونو تر دې مخکې هم څو ځله ویلي وو چې د افغانستان امنیتي وضعیت ترینګلی دی او پر خپلو اتباعو یې غږ کړی و چې هر څه ژر دې افغانستان پرېږدي. په همدې حال کې د ټولنیزو رسنیو ګڼ افغان کاروونکي د امریکا او برېټانیا سفارتونو وروستۍ اعلامیې د افغانانو پر ضد تبلیغاتي جګړه بولي او زیاتوي، چې غرب په دې ډول اعلامیو سره هره ورځ افغانان له رواني اړخه شکنجه کوي او د خپل راتلونکي په اړه یې زیات اندېښمن کړي دي. د ټولنیزو رسنیو فعالان دغه راز وايي چې له یوې خوا طالبانو د افغانانو پر وړاندې بې مخینې تاوتریخوالی پیل کړی او له بلې اړخه امریکا او برېټانیا په دې ډول څرګندونو سره خلک اړ کوي، چې له هرې ممکنې لارې له خپل هېواد څخه پښې سپکې کړي. دوی وايي، چې په دې وروستیو کې ګڼ شمېر افغانان له خپل هېواده د وتلو په موخه په سختو کړاوونو له قاچاقي لارو بهر ته تللي، چې هلته یې هم ژوند امن نه دی. د دوی په خبره، د ترکیې ایران او پاکستان په ګډون یو شمېر هېوادونو ته ورغلي افغانان تر ربړونې وروسته بېرته افغانستان ته رالېږل کېږي. د ټولنیزو رسنیو کاروونکو له یادو هېوادونو غوښتي چې هر څه ژر د افغانانو پر وړاندې رواني تبلیغاتي جګړې ته د پای ټکی کېږدي.

## سپینه ماڼۍ: طالبان به د تاوتریخوالي او وژنو له لارې هېڅ ډول مشروعیت ترلاسه نه کړي



۲ مخ

## دیلي‌میل: جو بایدن دستور استفاده از بمب‌افکن‌های بی۵۲ را برای سرکوب طالبان داده است



رسانه‌های غربی به نقل از منابعی در دولت امریکا گزارش داده‌اند که جو بایدن، رئیس جمهور این کشور، دستور استفاده از بمب‌افکن‌های بی۵۲ را برای سرکوب طالبان داده است.
دیلی‌میل گزارش داد که بایدن به نیروهای امریکایی دستور داده است تا برای توقف حمله طالبان به شهرهای بزرگ در افغانستان از بمب‌افکن‌های بی۵۲ استفاده کنند.
این در حالیست که طالبان به شهرهای زرنج در نیمروز، شبرغان در جوزجان، کندز، هلمند، هرات، قندهار و تالقان در تخار یک رشته حملات گسترده را آغاز کرده‌اند. این گروه مدعی تصرف مراکز ولایت‌های جوزجان و نیمروز هستند.
منابعی از ارتش امریکا به روزنامه تایمز گفته‌اند که قرار است مواضع طالبان در اطراف شهر قندهار، هرات و لشکرگاه در ولایت هلمند هدف بمب‌افکن‌های B-۵۲ و AC-۱۳۰ قرار بگیرد. به گزارش دیلی‌میل، این بمب افکن‌ها در حال حاضر، در ناو هواپیمابر رونالد ریگان در دریای عرب در قطر مستقر است. در جریان حملات طالبان به شهرهای هلمند و قندهار بارها گزارش شد که نیروهای امریکایی مواضع طالبان در این دو شهر بمباران کرده‌اند.
طالبان نیز در مواردی تأیید کرده‌اند که از سوی نیروهای امریکایی هدف حمله هوایی قرار گرفته‌اند. این گروه تلاش خود برای گرفتن مراکز شهرها را نیز واکنشی به حملات نیروهای امریکایی عنوان کرده است.

کتاب مو
د ژوند ملګری کړئ
Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### غربي تبلیغات تر جګړې ډېر خطرناک دي

په کابل کې د امریکا سفارت یو ځل بیا له خپلو وګړو غوښتي چې ژر تر ژره افغانستان پرېږدي، ځکه په وینا یې امنیتي حالت خراب دی. تر دې وړاندې هم امریکایي سفارت په دې تړاو اعلامیې خپرې کړې وې. همداسې برېټانیا هم له خپلو وګړو غوښتي چې ژر تر ژره افغانستان پرېږدي. تردې وړاندې امریکایي، برېټانوي او د لوېدیځو هېوادونو چارواکو بیا بیا ویلي چې افغانستان سقوط کوي او په دې هېواد کې د کورنۍ جګړې ګواښ زیات دی.

د امریکایي چارواکو دا څرګندونې د افغانستان په خلکو کې وېره خپروي. ډېر کم ملکي امریکایي وګړي په افغانستان کې دي او که امریکا وغواړي، له هغوی سره مخامخ اړیکه نیولی شي او د اعلامیې له خپرولو پرته هغوی ته ویلی شي چې افغانستان پرېږدي. دا چې دوی د خپلو محدودو وګړو د خبرولو لپاره د ټلیفون، برېښنالیک یا بلې وسیلې د کارولو پر ځای عامه اعلامیه خپروي او بیا هغه په ځینو امریکایي پلوه یا هغو رسنیو کې خپرېږي، چې امریکایانو جوړې کړې او یا پیسې ورکوي، دا نو بیا یو ښکاره پیغام لري. دا پیغام امریکایي وګړو ته نه دی، بلکې د افغانستان د خلکو د وېرولو لپاره دی. دوی غواړي افغانان ووېروي، په راتلونکې یې باور ختم کړي، له هېواده تېښتې ته یې وهڅوي او په دې ډول افغانستان له کدرونو، متخصصینو، پانګهوالو او نورو هغو کسانو خالي کړي چې دا هېواد ورته اړتیا لري.

داسې ښکاري چې امریکایان د یو منظم پلان له مخې افغانان وېروي. همدا چې امریکایي چارواکي پرلهپسې له افغانستان څخه د هغو کسانو د ایستلو اعلانونه کوي، چې له امریکا سره یې کار کړی، دا خپله له راتلونکې د وېرولو یوه هڅه ده. بیا چې امریکا دا شمېر او حدود ورځ تر بلې پراخوي، دا نو بیا په واضح ډول دا مانا لري چې دوی افغانانو ته وایي هېواد مو ناوړه حالت ته روان دی، تاسې ترې وتښتئ او هر څوک چې کولی شي، باید افغانستان پرېږدي. حیرانوونکې دا ده چې نړدې هره ورځ په دې اړه یا امریکایي چارواکي خبرې کوي، یا رسنۍ خبرونه او لیکنې لري او یا هم په دې اړه نوي څه کېږي. له همدې امله دا دې یو منظم پلان برخه ښکاري او که څوک لږ هم ورته پام وکړي، نو په اسانۍ یې درک کولی شي. د افغانستان په اړه د امریکایي چارواکو څرګندونې، له سفارت څخه خپرېدونکې اعلامیې، له افغانستان څخه د هغو کسانو د ایستلو پلانونه چې له امریکا سره یې کار کړی دی، د امریکایي، امریکایي پلوه او هغو رسنیو تبلیغات چې د امریکا له خوا یې مالي ملاتړ کېږي، ټول د همدغه منظم پروګرام برخې دي چې غواړي افغانان ووېروي او له خپل راتلونکې یې ناهیلي کړي.

د امریکا او لوېدیځ دا تبلیغات د افغانستان لپاره تر جګړې ډېر خطرناک دي. له دې امله چې په افغانستان کې لا هم تحولات تر ډېره پورې په امریکا پورې تړلي، نو ځکه خلک د امریکایي چارواکو خبرې، اندېښنې او ګواښونه جدي ګڼي او فکر کوي چې رښتیا هم افغانستان ناوړه حالت ته روان دی او آن ځیني خو یې پر دې باور دي چې امریکا غواړي افغانستان ناوړه حالت ته بوځي. له همدې امله امریکایي او لوېدیځ تبلیغات خلک ناهیلي کوي، تېښتې ته یې اړ باسي، کاروبار په ټپه دروي او ستونزې جوړوي. د دې شونتیا هم شته چې امریکا په قصدي او شعوري ډول افغانستان ناوړه حالت ته تېل وهي. له همدې امله پکار ده چې د دغو تبلیغاتو مخه ونیول شي، رسنۍ باید دا ډول خبرونه خپاره نه کړي، خلک باید خپله روحیه ونه بایلي، هېواد پرې نږدي او بالاخره د جګړې ښکېل بین‌الافغاني اړخونه باید د افغانستان لپاره ژر تر ژره سوله وکړي.

# ښار اور اخیستی

لیکنه: اکبر پیمان

په هلمند، هرات، تخار، کندهار، جوزجان او نورو ولایتونو کې وروستیو جګړو، بمبارۍ او چاودنو په سلګونو کورنۍ د غم په تغر کېنولې. په لښکرګاه کې روند بمبار درملتونونه، دوکانونه او مارکېټونه د اور په لمبو لولپه کړل، دا د خلکو دې ټول عمر سرمایه وه چې په ډېره خوارۍ او غریبۍ یې غونډه کړې وه؛ خو دا هرڅه له خاورو سره خاورې شول. په هرات، تخار، کونړ، کندهار، جوزجان، کندز او تقریباً په ټولو ولایتونو کې همدا حال دی، خلک ځورېږي، بارېږي، خوربېږي او حتی وژل کېږي. په تلویزیون مې د سرتورو ساندې او ژړاګانې لیدلې، د ماشومانو په مخ مې راماتې وینې کتلې، د سپینږیرو اسویلي مې اورېدل او دا لومړی ځل نه دی چې زه او نور خلک دا شیان وینو، اورو او په رڼو سترګو ورته ګورو؛ خو دا به اخر ځل هم نه وي. دا کارونه یوازې په ځانمرګو بریدونو کې نه کېږي؛ بلکې ړندې بمبارۍ هم داسې ویرونه راوړي او همداسې ماتمونه زیږوي. له معمول سره سم په مطبوعاتو، فیسبوک او نورو ټولنیزو رسنیو کې په هماغه ورځ ډېر سخت عکس‌العملونه وینو، خو چې ورځ تېره شوه او سبا شو، بیا هر څه رانه هېر وي. یوازې د پېښې اصلي قربیانیان دي چې دا غمونه تر ډېره ورسره مله وي او ډوډۍ له اوښکو سره خوري او دا غمونه تر ډېره یادوي؛ خو د نورو کسانو بیا دا حال ډېر ژر هېر شي. موږ په بیا بیا دا تېروتنې کوو، هر ځل پردی غم نیم اختر ګڼو. موږ له عقل څخه په احساساتو کې ډېر مخته یو او زموږ تاریخ هم همدا ګواهي ورکوي چې زموږ احساساتو تل موږ له سرېتوب څخه ایستلي یو. زموږ کور اور اخیستی دی، موږ په دې اور کې سوځو، خو اوس هم حتی زموږ لوستي خلک قومي مسایلو ته لمن وهي، تر اوسه هم دې جګړې ته د مشروعیت ورکولو هڅه کوي، تر اوسه هم د خلکو د وینو له پلورلو څخه پیسې تر لاسه کوي او تر اوسه هم د وریو لیوانو په شان د ولس غوښه او هډوکي یو ځای سره خوري. له څه دې پاسه ۲۰۰ ولسوالیو تر سقوط وروسته هم سیاسي اختلاف هماغسې په درز کې روان دی. که په نظامي او ملکي پوستونو کې د فاسدو چارواکو ګومارنو ته وګورو، نو له ورایه دا خبره ښکاره ده چې دا لویه غمیزه په لوی لاس ډیزاین شوې ده. د خلکو له استازو نیولې بیا تر یوه عادي ماموره ټول په یو ډول نه یو ډول فساد کې ښکېل دي. دلته پاک کسان په لوی لاس له میدانه ایستل کېږي او یا دومره ځورول کېږي، چې په اخیر کې پخپله کار پرېږدي. دې کړنو د ملت کرکې ته لاره هواره کړې ده او په لوی لاس قومي مسایلو ته لمن وهل کېږي. چارواکو ډېرې لویې تېروتنې (کېدای شي قصدي وي) وکړې چې په پایله کې یې د ولایتونو مرکزونو ته هم جګړه را ورسېده.

حکومت په ډېره اسانۍ وایي چې (به زدوترین فرصت ولسوالي‌های از دست رفته را پس میگریم) نو چې بیا یې نیسې، ولې دې ور پرېښودې؟ د ولسوالۍ له لاسه ورکول او بېرته نیول خو خلکو ته په ډېر لوی قیمت تمامېږي او دا قیمت خو خلک له تېرو شلورو لسیزو راهیسې بیا بیا پرې کوي، خلکو په ځلونو خپل سر او مال په دې ناروا جګړه کې بایللي دي او اوس دومره ځپل شوي دي، چې نور د هیڅ شي زغم نه لري، دومره غریب دي چې خپله ډوډۍ نه لري او دومره ناتوانه دي چې د چنګېز هم زړه ور باندې سوځي. تاسې دا خلک ولې نه پرېږدی؟ تاسې یې ولې له وژلو لاس نه اخلی؟ تاسې یې څومره نور وژنی؟

**ځینې جدي پوښتنې په دې اړه ځوابونه غواړي!**

ولې د له لاسه وتلو ۲۰۰ ولسوالیو لویه برخه بې جګړو تسلیم شوه؟ د کندهار بر حاله والي دېته سیاسي سقوط وایي، حکومت او په تېره بیا د امنیت شورا باید خلکو ته سیاسي سقوط تعریف کړي. خلک پوښتي چې د حکومت دننه کوم معاملات روان دي؟

دا ښکاره خبره ده چې ټول ولایتونه او ښارونه کمانډویان او ځانګړي ځواکونه نه شي ساتلی او نه هم د هغوی وظیفه ده. حیاتي پوښتنه دا ده چې په ولایتونو کې شته نظامیان څه کوي؟ ولې ټول ولایتونه له مرکزه د نورو ځواکونو د رسېدو او کومک غوښتنه کوي؟ ایا طالبان دومره ډېر دي چې په ولایتونو کې یې شته فوځیان د جنګ مخه نه شي نیولی؟ ولسمشر باید خلکو ته رښتیا ووایي چې څه روان دي؟ ولې جګړه په لوی لاس ښارونو ته راوستل شوه؟ ښکاره خبره ده چې هوښیار سړي کورته جنګ نه راوړي، خلک د دې پوښتنې ځواب غواړي او دولت باید خلکو ته رښتیا ووایي.

آیا ملت باید په نورو ښارونو لکه کابل کې هم د همدې حالت په انتظار وي؟

د پاکستان ملامتول او ټوله پړه پر پاکستان اچول د ستونزو حل نه دی. د نظام په داخل کې د پاکستان جاسوسان څوک دي او ولې نه رسوا کېږي؟

پخواني ټوپکیان او قومي غله څه غواړي او ولې د دې لویې غمیزې پر وړاندې غلي دي او هغوی چې د طالب پر وړاندې وسله اخلي، ولې مرسته نه ورسره کېږي؟

او تر ټولو مهمه خبره خو لا دا ده چې امریکا له طالب سره کومه پټه معامله کړې ده؟

دې ټولو پوښتنو ته باید ولسمشر د پارلمان په ګډه غونډه کې ځواب ویلی وای، ولسمشر باید هغه کسان چې پټه او د دښمن سره ګډه اجنډا لري، ولس ته ورپېژندلي وای. زه ډاډه یم که خلک په رښتیا وپوهېږي او رښتیا ورته وویل شي، حتماً د حکومت په خوا کې درېږي او دا حالت تغییر کوي. خو د ولسمشر او امنیت شورا چوپتیا له دې څخه هم جدي او سختې پوښتنې را پورته کوي، چې بیا به یې د ځواب لپاره ډېر ناوخته وي.

**د ولس ونډه**

موږ په تېرو شلو کلونو کې ډېر فرصتونه له لاسه ورکړل. د پردیو په لمسون مو د ډیموکراسۍ بنسټیز اصول لکه ټاکنې هم بدنامې کړې. د پردیو په لمسون او شراکت مو د ملکي شتمنۍ لویه برخه لوټ کړه او په بنسټیزو پروژو کې مو ډېر لوی خیانتونه وکړل. شل کاله مو د یو بل په تخریب کې تېر کړل. ما افغان نیستیم او زه افغان یم، فدرالي حکومت غواړو، فارسي پښتو، مجاهد او غربي او په نورو نومونو مو دا زرین فرصت له لاسه ورکړ. خو اوس وپوهېدو چې دا جګړه نه پښتون پرېږدي نه اوزبک، نه هزاره ګوري او نه تاجک. موږ یو د بل په تخریب او ماتولو کې خپل ټول وس وکړ که مو دومره کارونه د ملک د جوړولو لپاره کړي وای، اوس به مو ملک له دې بدمرغیو خلاص و. اتحاد او اتفاق دې ولس تر ټولو لوی قوت دی او د ولسونو زور ته هیڅوک د ټینګې نه دي. له هلمنده د سولې د ولسي حرکت پیل، په فرض روژه کې تر کابله د هغوی پلي راتګ او بیا په کابل کې د مختلفو ارګانونو مخته د هغوی لخوا د اعتراض خیمې وهل او بیا د هیواد ګوټ ګوټ ته د هغوی سفرونه زموږ د خلکو لپاره د سولې او په جګړه کې په ښکېلو خواوو د فشار اچولو ډېر ښه فرصت و. خو د دې کسانو شمېر هیڅکله تر سلو ډېر نشو، حتی ځینو کسانو خو د دوی په دې مدني حرکت پورې خندل هم. ایا په دې ۳۵ میلیونه نفوس کې یوازې همدا سل تنه سوله غواړي؟ ایا دا کسان چې نن یې فیسبوکونه په نارو سورو، اسویلیو او ساندو ډک کړي دي، سوله نه غواړي؟ زه سل په سلو کې ډاډه یم چې د دې ولس ۹۸ سلنه خلک سوله غواړي. خو دا چې ولې نه را پورته کېږي، ولې د سولې له ولسي حرکت سره مل نه شول، هغه سوالونه دي چې باید له دې ویده ملت څخه وپوښتل شي. د فیسبوک په پاڼه د وینو او اوښکو په پوست کولو سره سوله نه راځي. دا چې ته وایې زما یې پرې څه، نو چې سبا ستا کور په ځانمرګي او یا هم ړندو بمباریو کې وران شي، نو سبا زه هم وایم چې زما یې پرې څه. دا چې ته زما د غم د مخنیوي لپاره خپل دفتر نه شې تړلی، خپله دوکانداري او تجارت نشې پرېښودلی، حتی د خپلې راډیو او تلویزیون په پرده په همدې ورځ د سندرې اواز نشې کرارولای، نو زه به بیا ستا په مرګ ولې خواشینی شم؟ د چا په مړي پورې خندل همدې ته وایي چې ته بېغمه ناست او وایې چې چاودنه خو له موږ څخه لرې وه، نور یې موږ څه کوو، نو سبا چې څوک ستا د مړي سپکاوی کوي، زما په نظر خو دا دې هغه سړي حق دی. دا چاودنې او بمبارۍ به همداسې جاري وي، موږ به همداسې د قصابۍ د غوایانو په شان قرباني کېږو، زموږ ماشومان به همداسې په وینو کې لامبي او زموږ تورسرې به همداسې لوڅې پښې منډې وهي. دا غمیزه به تر هغه روانه وي تر څو چې ما او تا راویښ نشو. څو چې د خپل ورور غم خپل غم ونه ګڼو، څو مو چې دا فکر له سره ونه باسو چې انسان وژنه جنت ته د تګ یوازینۍ لار ده، تر هغه به دا حالت دوام کوي. منظور پښتین څنګه خلک را ټول کړل، څنګه یې منظم کړل، څنګه یې د یو لوی فوځ پر وړاندې ودرول، هغه فوځ چې حتی نوم یې په بده اخیستل کفر ګڼل کېده. د منظور په هره جلسه کې په سلګونو زره کسان وې، خو زموږ د سولې ولسي حرکت تر سلو نه اوړي. ولې نه اوړي ځکه ملت د سولې پخه اراده نه لري، که څه هم په سوله پسې له تندې مري. د الله اکبر غږ هم باید له دې سل وارې په لوړ اواز اوچت شوی وای، په هغه شپه هم په میلیونونو خلکو منافقت وکړ، په کور کېناستل او الله اکبر ویل هم ورته ټوکې ښکارېدلې، که ستا عمل همداسې وي، نو حالت دې له دې نه هم بدتر در واخله.

# سپینه ماهی: طالبان به د تاوتریخوالي او وژنو له لارې هیڅ ډول مشروعیت ترلاسه نه کړي

سپینه ماهی وایي، د طالبانو له لوري وروستي اقدامات به له دوی سره د نړیوال مشروعیت په ترلاسه کولو کې مرسته ونه کړي. سپینې ماهی دا خبره وروسته له دې کړې چې طالبانو وړمه په کابل کې د حکومت د رسنیو د مرکز د رییس دواخان مینه پال د وژلو مسوولیت په غاړه واخیست. د سپینې ماهی ویاندې جین ساکي یوې خبري غونډې ته ویلي، که طالبان د نړیوال مشروعیت د ادعا غوښتنه لري، دا ډول اقدامات دوی ته هغه مشروعیت نه ور په برخه کوي چې دوی یې په لټه کې دي. نوموړې ویلي، طالبان باید دې لارې ته دوام ورنه کړي. هغې ویلي، طالبان باید د جګړې انرژي د سولې پر پروسې ولګوي.



بلخوا د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې د امریکا یوه بل لوړپوړي ډیپلومات جیفري ډیلارنټېس پر طالبانو غږ کړی، چې بریدونه ودروي، سیاسي هوکړه ومني او له ورانیو او وژلو لاس واخلي. جیفري ډیلارنټېس ویلي، طالبان دې پوه شي، چې نړیوال په زوره د افغانستان نیول نه مني. په ورته وخت کې د چین مرستیال استازي، ډای بینګ هم ویلي، چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو په وتلو کې دې د سیمې له هېوادونو سره پاکې خبرې وشي. هغه زیاته کړې، بهرني ځواکونه باید رامنځته شوې ستونزې همداسې پرې نه ږدي. د ملګرو ملتونو امنیت شورا هم په افغانستان کې د روان تاوتریخوالي پر کمولو ټینګار کړی دی. وړمه ورځ ناوخته د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ځانګړې غونډه جوړه شوې وه چې دې غونډې ته په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دایمي استازي، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو استازې دیبورا لاینز او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون مشرې ویناوې وکړې. د یوناما مشرې د خپلو خبرو په دوام وویل چې په افغانستان کې وضعیت ورځ تر بلې ترینګلی کېږي او د طالبانو روانې جګړې هره ورځ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړوي. د نوموړې په خبره، تېره میاشت زر کسان ملکي وګړي پر ښارونو د طالبانو په بریدونو کې وژل شوي دي. نوموړې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له غړو وغوښتل چې طالبانو ته دې د سولې خبرو کې د پرمختګ په موخه یوه میاشت نور هم وخت ورکړي او تر هغه وروسته دې د دغې ډلې پر مشرانو د سفرونو او تګ راتګ بندیزونه وضع کړي.

# نیت مو دې مکې دی؛ خو روان یو برمودا ته!

ليکنه: عبدالوحيد وحيد

زه په پرديو باندې زمونږ د حکومت په ډول تکيه کول د خپل ملي غرور توهين او د پرديو د تېري پر وړاندې مبارزه د افغانانو حق ګڼم. د تېري کوونکي پر وړاندې د مقاومت او مبارزې له اصل سره د مخالفت تصور هم نه کوم، خو کله چې خبره د افغان سينې ته د بل افغان لخوا نيول شوي ټوپک ته رارسيږي، نو بيا وايم چې دلته د پرديو لخوا د پرديو ګټو لپاره په پرديو باروتو او پرديو ټوپکو جګړه روانه ده. د سون توکي يې مونږ يو، هيواد زمونږ ورانيږي او زيانونه يې زمونږ ټولنه پر اوږه وړي.

د افغانانو تر منځ په جګړه کې مو که کله هم فکر وکړ چې څوک ووژل شو؟ جګړه د څه لپاره ده؟ غرناطه او که ټول اوندلوس فتحه/بيرته ونيوله؟ غازي او شهيد په څه باندې ايمان لري؟ هاغه بوره مورکۍ څوک ده؟ يتيمان څوک دي؟ نو بيا پوهيږو چې دلته روانه جګړه که د ځاني دفاع لپاره مجبوريت وي او مشروعيت هم ولري؛ خو قطعاً د وياړ ارزښت نه لري.

امريکايان چې پوه شول په افغانستان کې روانه کړې جګړه يې له ملي ګټو سره سمون نه خوري، نو هغه سرسخت دښمن ته خورا د لوړې کچې امتيازات ومنل چې يو وخت يې په خپلو کورونو کې د اوسېدو په اجازه باندې پخواني ولسمشر حامد کرزي ته سخت ګواښ کړی و. طالبان يې په کور کې اوسېدو ته نه پرېښودل. دواړه افغان لوري يې داسې د يو بل په تقابل کې ودرول چې اوس د پخوا په پرتله جګړې څو ځله زياتې شوې، ملکي تلفات لوړ شوي، دولتي بنسټونه ونړېدل، ملي شتمنۍ لوټ شوې، ولسواليو سقوط وکړ او اوس د ولايتونو د سقوط نښې هم ليدل کيږي.

عجيبه خو لا دا ده چې ارګ اوس هم د خپلو مديريتي ستونزو د منلو پر ځای د ګواښونو ژبه کاروي، د دښمن د محوه کولو دړکې کوي، لاپې وهي، سولې ته د لابي کولو پر ځای له ولس څخه غواړي چې دغه تکنی امنيتي وضعيت د نورو شپږو مياشتو لپاره وزغمي.

طالبانو د جګړو خوا نيولې ده، د بشپړې عسکري بريا په لټه کې دي او البته له جنګي بريا وروسته ستونزې نه ارزوي او د شرايطو په حساسيت باندې فکر نه کوي.

که تېر تاريخ ته د کتو جرئت وکړو، نو شک نشته چې زمونږ په هيواد کې روانه څو بُعدي جګړه قطعاً فاتح نه لري. خلقيانو د خپلې کودتا بريا ته عجيب او غريب اصطلاحات کارول، خو ومو ليدل چې پايله يې څه شوه. مجاهدينو نظامي بريا تر لاسه کړه، خو په خپله سره ونښتل. هر څه په سيند کې لاهو شول. طالبانو همدغه شان نظامي بريا تر لاسه کړه، خو جګړه روانه وه. د طالبانو مخالفه جنګي جبهه او له غرب څخه راستانه شوي د امريکا په ملاتړ دومره افراطي ونازېدل، چې انسانيت يې په يادولو شرميږي، خو اوس يې پايله وينو. اوس حکومتي اړخ او طالب سره په تقابل کې دي. مونږ يې وينو چې په واقعي توګه سولې ته هيڅ اړخ ژمنتيا نه لري او انجام يې هم راته خطرناک ښکاري.

طالب اړخ د خپلو نيمګړتياوو ژوندی تاريخ لري، خو که د ارزونې په لاملونو يې تمرکز وکړي، نو ستونزه حل ده. ارګ هم د غولولو تګلاره تعقيبوي. فکر نه کوي چې دلته امريکا او ناټو راغلل، ټول زور يې وواهه؛ خو جګړه يې مهار نه کړای شوه او ښاغلی ولسمشر د کومې محاسبې پر بنسټ له ولس څخه غواړي چې اوس خپل وژل شوي بچيان هديرو ته يوسي او شپږ مياشتې وروسته به هرڅه سم شي.

بله لا دا ده چې جګړه لګښتونه غواړي. اوس چې لاهم بهرنيان په بشپړه توګه وتلي نه دي او زمونږ امنيتي ځواکونو ته لګښتونه ورکوي، بيا هم نه پوهېږم ولسمشر د کومو اړتياوو د پوره کولو لپاره د پرمختيايي پروژو پيسې (يوولس ميلياړده افغانۍ) نظامي برخې ته ورکړې او پروژې د ځنډ ښکار شوې. دا لا دې پټې سر دی پټې شاته سورور دی. که امريکا او ناټو په ګډه په شلو کلونو کې دلته روانه جګړه قابو نه کړه، نو مونږ بايد نور په جګړه باندې نه؛ بلکې په سوله تمرکز وکړو.

طالبانو ته مې په خپلو ليکنو کې لمن وغوړوله چې جګړه ګټونکی نه لري. له امريکا سره په سوله کولو مو د ولس باور له لاسه ورکړ. په افغانستان باندې په يوازې سر حکومت کول ناشونی کار دی. تاسو د اوسني افغانستان د مديريت په خد او خال نه پوهيږئ. افراد مو د ښاري ټولنو له غوښتنو سره د ځان جوړولو وړتيا نه لري، نو ټولنه ستاسو عادي کړنو ته هم غبرګون ښيي. اوسنی افغانستان ستاسو تر تصور ډېر بدل دی. د استامبول د غونډې له تحريمولو وروسته مو د سياست په لوبه کې مسلسلې ماتې وخوړې. د نظامي بريا محاسبې مو هم په سهوو ولاړې دي. د ملکي لوړو تلفاتو له امله مو معنوي ضربه وخوړه.

متأسفانه چې ډېری طالبان د نظر اختلاف او انتقاد ته اقلاً د غوږ نيولو تاب هم نه لري. هر ډول مخالفت د دين له ادرس څخه د خپل تعبير پر بنسټ ردوي. لرليد يې په خپلو ځاني مفروضو ولاړ او د خپلو افرادو په فکري روزنه کې ژوره ستونزه لري. خپلې غلطيانې نه مني. په حيرانونکو دلايلو يې توجيه کوي. ځانونه ورته سپين چرګان او د هغوی د دريځ هر مخالف ورته د امريکا ګوډاګی او سيکولر ښکاري. دغه ډول ټولنيز توپيرونه به ومنو، خو د دين له ادرس څخه ردول يې بدې پايلې درلودلای شي. د ښار مېشتو اکثريت وګړي لوستي دي. هغوی استدلال کوي او له مقابل لوري څخه هم د علمي ځواب تمه لري.

کيدای شي د دواړو خواوو مشران سم وي، خو چاپلوسانو غلط کړي دي. چاپلوسان ورته وايي چې په خوب کې مې په سپين اس باندې سپور بيرغ په لاس کې وليدلې، چې په کابل وروختې. ملت ټول يوازې تاسو رهبر مني. تاسو د هيواد د نجات فرښته ياست. که تاسو دغه خاوره رهبري نه کړئ، نو د تباهۍ کندې ته به وغورځي. مشران هم نه له ولس څخه خبر دي او نه له ولس سره اوسيږي. فکر کوي چې واقعاً ملت يوازې هغوی له سمندري توپان څخه د نجات ساحل ته رسولای شي.

زه منم چې موجوده حکومت د فساد ريښې لري، د زورواکانو مجموعه ده، په ډېرو مواردو کې د پرديو د لاس آله ده او ډېری چارواکي دلته يوازې دي خپلو ناوړه ګټو لپاره اوسيږي. مګر زمونږ دوستان بايد دومره درک هم ولري چې نظام او حکومت توپير لري. افغانانو د داوودخان، نجيب او د طالبانو د نظام په نړولو کې زيان وليد. نيم ښوره نظامونه مو ړنګ، خو بل بشپړ نظام مو جوړ نه کړای شو.

بس ده! نور نظامونه ړنګول نه، بلکې رغول او سمول غوره کړنه ده. بله دا چې د اوسني نظام نړول هم نور غبرګونونه را پاروي. نه غواړم په يوه بله جګړه کې ښکېل او يو بل ناورين سره مخ شو. زمونږ هيواد به ترڅو د نظامونو لابراتوار وي. که په بُن کې طالبان د نظام برخه ګرځېدلي وای، ننني ناورين به نه و، خو دغو مفسدينو هغه مهال د خپلو ګټو لپاره طالب نفی کړ، چې حال يې اوس مونږ ټول د سر په سترګو وينو.

که مونږ له سلګونو منتقدينو علماوو څخه يوه ړوند مقلد ته ترجيح ورکوو، که مونږ فکر کوو چې زمونږ د تګلارو مخالفه علمي ډله بايد حذف شي، زمونږ ټولنه بايد کټ مټ د لوېديځې ټولنې په څېر ننداره وړاندې کړي، زمونږ کدرونه بايد له هيواد څخه وتښتي او يا ووژل شي، زمونږ مخالف سپيڅلي علما او د تحليل وړتيا لرونکي خلک بايد محوه شي، په مونږ باندې هيڅوک انتقاد ونه کړي، زمونږ هيواد محتاج واوسي، زمونږ ښارونه ويجاړ شي، زمونږ ټولنه د منځنيو پېړيو د خلکو په شان فکر وکړي، زمونږ ولس ببرته مغارو ته وګرځي، نو يقيناً ويلای شم چې دغه فکر مو مکې ته د رسېدو پر ځای د برمودا مثلث ته رسوي چې هلاکت به مو په برخه وي.

که مونږ په هيواد کې د رواني فاجعې، پراخو ملکي تلفاتو، روان بشري ناورين، د سړک په منځ کې د وژل شوي ماشوم ليدلو، د ولسونو د جبري مهاجرتونو د روغتون او پوهنتون په بمبارولو وروسته هم ټکان نه خورو او جګړه د بريا لاره ګڼو، نو وطنه الله دې مل شه!

اړين وضاحت؛

برمودا مثلث چې د شيطان مثلث او د دجال مثلث په نومونو هم پيژندل کيږي، د شمالي اتلانتيک بحر لوېديځه برخه کې يوه لړ شان يا هم په نرمه توګه تعريف شوې سيمه ده چيرته چې ويل کيږي ځينې الوتکې او کښتۍ چې دغې سيمې ته رسېدلې، په مرموزه توګه ورکې شوې دي او بيا يې هيڅ ډول څرک نه دی لګيدلی. ځينې معتبرې سرچينې دا نظر ردوي چې کوم راز دې هلته وي.

# د حکومت له امنيتي طرحې سره سره؛

## طالبانو په تېرو دوو ورځو کې د زرنج او شبرغان ښارونه تر خپلې ولکې لاندې راوستي



د وسله والو طالبانو له خوا د لسګونو ولسواليو تر سقوط او پر لويو ښارونو تر ډله ييزې بريدونو وروسته، ولسمشر غني تېره اونۍ د ملي شورا ځانګړې ناسته راوبلله او په دغه ناسته کې يې وويل چې د نوي امنيتي پلان له مخې تر راتلونکو شپږ مياشتو پورې په هېواد کې د جګړې اوسنۍ بڼې ته بدلون ورکړي. نوموړي دغه راز زياته کړه چې د تازه پلان پر اساس به د حکومت تر کنټرول لاندې اوسني ټولې سيمې ساتل کيږي او په له لاسه وتلو سيمو کې به هم ډېر ژر پوځي عمليات پيل شي.

د افغان حکومت له دغه امنيتي پلان سره سره، وسله والو طالبانو لاهم خپلو جګړو ته شدت ورکړی او يادې ډلې په تېرو دوو ورځو کې د زرنج او شبرغان ښارونه هم تر خپلې ولکې لاندې راوستل. له نيمروز څخه را رسېدلې راپورونه وايي، چې د دغه ولايت مرکز زرنج ورمه ورځ په بشپړ ډول د وسله والو طالبانو لاسته لوېدلی دی.

د دغه ولايت ځايي چارواکي او د ملي شورا غړي وايي چې وسله والو طالبانو له څو لورو پر دغه ښار بريدونه پيل کړل، خو په خبره يې امنيتي ځواکونه له کوم اوږده مقاومت پرته له دغه ښاره په شا شوي دي.

بلخوا د نيمروز ولايت پوليس هم تاييدوي چې د دغه ولايت مرکز د وسله والو طالبانو لاسته لوېدلی دی.

د ياد ولايت امنيتي چارواکو رويټرز خبري اژانس ته ويلي چې دغه ولايت ته د اضافي سرتېرو نه ورسېدو له کبله دغه ولايت د طالبانو لاس ته لوېدلی او ډېری چارواکي او امنيتي سرتېري ايران ته اوښتي دي. طالبانو هم منلې، چې زرنج ښار د دوی د جنګياليو لاس ته لوېدلی دی.

تر نيمروز وروسته شبرغان دويم لوی ښار دی چې په تېرو دوو ورځو کې د دغې ډلې له خوا سقوط کېږي.

د جوزجان مرستيال والي عبدالقادر ماليه وايي چې ټول افغان امنيتي او دفاعي ځواکونه د دغه ولايت له مرکز څخه وتلي او د شبرغان ښار په بشپړه توګه د طالبانو په کنټرول کې راغلی دی. ماليه زياته کړه چې د مارشال عبدالرشيد دوستم اړوند سيمه‌ييز پاځونوال هم له ښار څخه وتلي او طالبان د دوستم ۵۰۰ ماڼۍ ته داخل شوي دي. د جوزجان د ولايتي شورا رييس بابر ايشچي هم ويلي چې اوسمهال ټولې دولتي ادارې د وسله والو طالبانو په کنټرول کې دي.

د جوزجان مرستيال والي او د ولايتي شورا رييس همدارنګه ويلي چې د دغه ولايت هوايي ډګر هم د طالبانو له خوا نيول شوی دی. يادو چارواکو په دغه جګړه کې افغان سرتېرو ته د اوښتو تلفاتو په اړه څه نه دي ويلي. په ورته وخت کې د افغانستان د کورنيو چارو وزارت وياند ميرويس ستانکزی پر شبرغان ښار د طالبانو بريدونه تاييد کړي، خو د دغه ښار د سقوط په اړه يې څه نه دي ويلي.

دا په داسې حال کې ده چې د دفاع وزارت وړمه ورځ وويل چې د جوزجان ولايت د مرکز کنټرول د افغان ځواکونو په لاس کې دی او طالبان يې له شبرغان څخه ايستلي دي. د دفاع وزارت مرستيال وياند فواد امان پر خپل ټويټر پاڼه ليکلي وو: «شبرغان له تروريستانو څخه پاک شو، امنيتي او دفاعي سرتېرو او سيمه ييزو پاځونوالو طالبانو ته زياته مرګ ژوبله اړولې ده، د وژل شوو کسانو جسدونه په کوڅو او لارو کې پراته دي.»

بلخوا ارګ وايي چې جمهور رييس محمد اشرف غني له مارشال عبدالرشيد دوستم سره په ليدنه کې د شمالي ولايتونو د امنيتي وضعيت په اړه خبرې کړې دي.

وسله وال طالبان داسې مهال دغه ښارونه سقوط کوي چې ټاکل شوې تر راتلونکو څو اونيو به ټول امريکايي او نړيوال ځواکونه له افغانستانه ووځي.

## د کتاب خبرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکتور فرېنکل**
ژباړن: **میراحمدیاد**




## د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

له دې دا هم ښکاري چې یو کوچنی شی هم د لویې خوښۍ لامل کېدای شي. مثلاً موږ چې له شویتز نه داخاو زندان ته تللو، په لاره کې څه وشول، دا خپله یوه بېلګه ده. موږ ټول وېرېدو چې ګنې د ماوتاهاوزن زندان ته مو وړي. په لاره یو پل و چې ریل ګاډي ترې باید اوښتی او ماوتاهاوزن زندان ته تللی و. دا خبره موږ ته هغو کسانو کړې وه چې پر دې لاره یې سفرونه کړي وو. چا چې دا صحنه نه وي لیدلې، باور به یې هم ونه شي چې کله ریل ګاډی پر پله وانه وښت او مخه یې داخاو زندان ته شوه، موږ له خوشالۍ څومره چیغې او مستۍ کړې دي.

موږ چې دې زندان ته دوې ورځې او درې شپې مزل وکړ، بیا چې راورسېدو، څه وشول؟ ما مخکې هم وویل چې د ریل ګاډي په ډبه کې ټولو د ناستې او پلتۍ وهلو ځای نه درلود. زیاتره په ټوله لاره ولاړ وو. ځینې پر شلېدلو پوزکیو ناست وو، پوزکي د بندیانو په متیازو لامده وو. زندان ته په رسېدو مو له پخوانیو زندانیانو یو مهم خبر دا واورېد چې دا زندان کوچنی دی (۲۵۰۰ تنه پکې دي) او د انسان سېځلو تنور او د ګاز خونه پکې نه شته. دا په دې مانا وه چې دلته څوک ضعیفه شوی وای، نو مستقیم د ګاز خونې ته نه لېږل کېده، بلکې باید په تمه شوی وای چې د «ناروغانو له ډلې» سره بېرته شویتز ته رالېږل شوی وای. دغه د خوشالۍ زېري زموږ د ټولو طبیعت جوړ کړ. په شویتز کې زموږ د مشر څارونکي دا ارمان پوره شو. موږ داسې ځای ته ولېږل شوو چې د شویتز زندان غوندې پکې د انسانانو د تنور نل (دودکش) نه و. سره له دې چې په راتلونکو څو ساعتونو کې به بیا له ستونزو او سختیو سره مخ کېدو، خو موږ ښې ټوکې وکړې او ښه مو سره وخندل.

نوي راغلي بندیان چې وشمېرل شول، یو کس پکې کم و، نو موږ باید تر هغې بهر باران او یخ باد ته ولاړ وای چې ورک شوی کس بېرته پیدا شوی وای. اخر په یوه کوټه کې پیدا شو، هلته له ډېرې ستړیا ویده شوی و. د دغه کس ورکېدل موږ ته لوی عذاب شو. په هغه شپه او سبا ورځ موږ تر اوږدې ستړیا وروسته یخ وهلي او لامده بهر باران ته ولاړ پاتې شوو، خو خوشاله په دې وو چې دې زندان د انسان سېځلو تنور نه درلود او تر شویتز پورې هم ډېره لار وه.

یوه ورځ مو یوه محکومه ډله ولیده چې زموږ د کارځای ترڅنګ تېرېده. موږ هغه وخت د ټولو سختیو او کړاوونو پر نسبیت پوه شوو. پر هغو زندانیانو او د هغوی په نسبتاً منظم، خوندي او خوشاله ژوند مو رخه راغله. په خپګان مو دا فکر وکړ چې دوی به حتماً هره ورځ د منظم حمام کولو فرصت لري. دوی به د غاښونو او جامو مینځلو برسونه لري. هر یو به جلا توشکه لري او هر یوه ته به په میاشت کې یو ځل د پوست له لارې د خپلوانو خبر راځي او لږ تر لږه پر دې به پوهېږي چې هغوی ژوندي دي که نه. موږ خو دا هر څه ډېر وخت مخکې بایللي وو.

زموږ پر هغو بندیانو هم رخه راتله چې په فابریکه کې به یې د کار فرصت موند او په سرپټي ځای کې به یې کار کاوه. ټول د همداسې بخت په ارمان وو. د نسبي بخت او نېکمرغۍ اندازه نوره هم زیاتېږي. له زندانه بهر ځینې ډلې وې، زه خپله هم د یوې ډلې غړی وم، په دې کې ځینې ډلې داسې تر نورو ډېرې بدمرغه وې. پر ځینو هغو هم رخه راتله چې سپک به یې کاوه او زموږ غوندې به مجبور نه وو چې دوولس ساعته پرله پسې په خاورو او خټو کې کار وکړي او د ریل ګاډي پټلۍ ته ځایونه وکني، ځکه زیاتره وژونکې پېښې په همدې کارونو کې کېدې. **دوام لري...**

# نعمان سادات د لوړو زده کړو موسسه

**حمیدالله حمیدي**




نعمان سادات د لوړو زده کړو موسسه چې په کابل ښار کې موقعیت لري، په ۱۳۹۳ کال کې یې پر فعالیت پیل کړی دی. د نعمان سادات د لوړو زده کړو موسسې د عامه اړیکو مسوول ښاغلي حسن الله دهقانزاده وویل، دوی د پیل پر مهال دوه پوهنځي: ستوماتولوژي او فارمسي درلودل چې اوسمهال هم د همدې پوهنځیو په چوکاټ کې خپلې درسي چارې پر مخ بیایي. د نعمان سادات د لوړو زده کړو موسسې ستوماتولوژي پوهنځي په ۱۳۹۴ کال کې د یادې موسسې د فعالیت له پیل څخه یو کال وروسته پر کار پیل کړی دی او هر کال د کانکور ازموینې له لارې خپلو پسرلني او خزاني سمیسترونو ته نوي محصلین جذبوي. فارمسي پوهنځی یې د اتو سمیسترونو په ترڅ کې خپلو عملي او نظري زده کړو ته دوام ورکوي. د دغې پوهنځي محصلین د زده کړو له پای ته رسولو وروسته د شپاړسم پاس په کچه تحصیلي سند تر لاسه کوي.

ښاغلي دهقانزاده همدا راز وویل، دا چې د دوی پوهنځي طبي دي نو په مختلفو طبي دېپارتمنتونو کې تدریسي چارې پر مخ وړي، لکه اناتومي، بیولوژي، فارمکولوژي، فارمسیوتیک، بیوشیمي او فارمکوګونوزي دېپارتمنتونه.

د ښاغلي دهقانزاده په وینا، دوی اوسمهال په خپلو دواړو پوهنځیو کې تر ۲۵۰۰ پورې محصلین لري چې له دې ډلې یې له ۳۰ تر ۳۵ سلنې پورې ښځینه محصلینې دي او پاتې نور یې نارینه محصلین تشکیلوي. ښاغلي حسن الله دهقانزاده همدا راز زیاته کړه، چې دوی تر دې دمه له نعمان سادات لوړو زده کړو موسسې څخه په پنځو دورو کې شاوخوا ۸۰۰ محصلین فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. د ښاغلي دهقانزاده په وینا، دا چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا د لوړو زده کړو طبي موسسو ته د نوو محصلینو د جذب کچه ټاکل شوې ده، نو دوی هم هر کال خپلو دواړو پوهنځیو ته سل سل تنه جذبوي چې په ټوله کې هر کال ۲۰۰ نوي محصلین جذبوي او د لوړو زده کړو اسانتیاوې ورته برابروي. ښاغلي دهقانزاده د خپلو خبرو پر مهال وویل چې دوی خپلو هغو محصلینو ته چې مالي او اقتصادي وضعیت یې کمزوری وي، تر ۵۰ سلنې پورې تخفیفي سکالرشیپ ورکوي. د نوموړي په وینا، یاد محصلین لومړی د پوهنتون لخوا ارزول کېږي او د هغوی د کمزوري اقتصادي وضعیت له تشخیص وروسته ورته په خپل سمیستروار فیس کې تر ۵۰ سلنه پورې تخفیف ورکوي.

ښاغلي حسن الله دهقانزاده زیاته کړه چې دوی د ورځې په دوو درسي ټایمونو کې خپل محصلین د لوړو زده کړو لپاره را غواړي. هغه وایي د زده کړو ټایمونه یې سهار وختي او پس له څلورو بجو دي، چې په خبره یې د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو ډېری محصلین هغه کسان دي، چې یا د ورځې رسمي دندې لري او یا هم پر کوم شخصي کار لګیا وي. د نعمان سادات د لوړو زده کړو موسسې د عامه اړیکو مسوول ښاغلي حسن الله دهقانزاده همدا راز وویل، دوی د خپلو محصلینو لپاره مجهز کتابتون لري. د نوموړي په خبره، دوی پر فزیکي کتابتون سربېره الکترونیکي کتابتون هم لري چې تر ۴۰۰۰ جلده پورې مختلف کتابونه پکې دي او محصلین کولای شي وخت ناوخت مراجعه ورته وکړي، مطالعه یې کړي او خپل د اړتیا وړ مالومات ترې تر لاسه کړي.

ښاغلي دهقانزاده په خپلو خبرو کې وویل، دوی د لوړو زده کړو وزارت له لایحې سره سم په هېواد کې د ننه او له هېواده د باندې له ځینو پوهنتونونو او علمي مرکزونو سره متقابلې علمي اړیکې لري، چې له هغې ډلې کولای شو د ایران، ترکیې او هند هېوادونو ځینو پوهنتونونو ته اشاره وکړو چې د یادو اړیکو پر بنسټ یو له بل سره علمي تجربې او لاسته راوړنې شریکوي او یو د بل له علمي هڅو او لاسته راوړنو ګټه اخلي.

د ښاغلي حسن الله دهقانزاده په خبره، دوی د نعمان سادات د لوړو زده کړو په موسسه کې ۸۰ استادان لري چې د لسانس، ماسټرۍ او دوکتورا تر کچو لوړې زده کړې لري. د نوموړي په خبره، ټول استادان یې په اړوندو برخو کې پوره تجربه لري، چې کولی شي محصل ته په کم وخت کې ډېر څه په ښه ډول تدریس کړي.

ښاغلي دهقانزاده زیاته کړه، دوی د خپلو دوو لومړیو دورو فارغینو ته په لوړو زده کړو وزارت کې ثبت او راجستر شوي اسناد ورکړي دي او د پاتې نورو فارغو محصلینو اسناد په لوړو زده کړو وزارت کې تر کار لاندې دي، چې په نږدې راتلونکي کې به یې ورته وسپاري.

د نعمان سادات د لوړو زده کړو موسسې یاد مسوول همدا راز وویل، دوی د خپلو محصلینو د علمي سویې د لا بډاینې په موخه ډېر امکانات لري. د نوموړي په وینا، دوی په ۱۳۹۶ کال کې د ستوماتولوژي پوهنځي لپاره د افغانستان په سطحه د غاښونو د امراضو لومړنی لابراتوار تاسیس کړ چې تر دې مهاله یې امتیاز له دوی سره دی. همدانګه د فارمسي پوهنځي لپاره مجهز درملتون لري چې محصلین پکې عملي زده کړې او د درملو تبادله تر سره کوي. پر دې سربېره، په نږدې راتلونکي کې د درملو د یوې کوچنۍ تولیدي فابریکې د جوړولو قصد هم لري، چې په جوړېدو سره به یې د محصلینو علمي سویه لا لوړه او په ټوله کې به هیوادوالو ته د خدمت یو ډاډمن او باوري ادرس وګرځي. د نوموړي په خبره، دوی د خپلو محصلینو لپاره د مطب په نوم تدریسي او معالجوي روغتون هم لري، چې محصلین د عملي زده کړو لپاره مراجعه ورته کوي.

ښاغلي حسن الله دهقانزاده په پای کې وویل، دوی له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې د کریکولم یا نصاب په برخه کې ورته ډېره پاملرنه وکړي، منظم یې کړي او د لوړو زده کړو د موسسو او د هغوی د محصلینو له سویې سره سم یې ترتیب کړي.

نوموړی وایي، خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې په افغانستان کې نوې تجربه ده، که لوړو زده کړو وزارت دغه بنسټ ته د دولتي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو په څېر توجه وکړي، پرته له شکه چې د نړیوالو خصوصي پوهنتونونو او موسسو په څېر به دغه بنسټ هم ښه پایله ورکړي او وبه شي کولی چې هیوادوالو ته په ښه کیفیت د لوړو زده کړو زمینه برابره کړي.

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۹۰ |
| € | ۹۳,۲۰ |
| Rp. | ۴۹۲ |
| ₹ | ۱۰۸۵ |
| ¥ | ۱۱,۴۰ |
| £ | ۱۰۹,۸۰ |

## بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# دغه عوامل ستاسو او بریالیتوب تر منځ پُل جوړوي

ژباړه: صفي الله پادشاه

په دې مقاله کې د هغه عامل په هکله خبرې کوو چې ستاسو او بریالیتوب تر منځ پُل جوړوي. هغه پُل چې که ترې تېر نه شی، بریا مو لاسته نه راځي. دغه عامل د ستونزو او سختیو له زغملو او د هغوی دې له منځه وړلو لپاره له وړاندیز شوو حللارو څخه عبارت دي.

مقاله تر پایله ولولئ، څو موضوع لا ډېره درته روښانه شي.

ډېر عوامل د دې سبب کېږي څو پرې موږ بریا ته ورسېږو. لکه څرنګه مو چې څو ځله ویلي دي، بریالیتوب په بخت او چانس پورې اړه نه لري او خپل ځانګړي شرایط او قوانین لري.

ټول بریالي کسان، خپلو موخو ته د رسېدو لپاره سخت کار کوي، تل د بریالیتوب په لټه کې دي او هېڅکله نه تسلیمېږي. د هغو مهمو شرایطو له ډلې چې ښایي د نوي سلنه بریالیو کسانو په ژوند کې تر سترګو کېږي، د ستونزو او سختیو د زغملو فلسفه ده. د نامحدودو سختیو زغمل، هغه څه دي چې د اوسنۍ زمانې ډېری انسانان یې وړتیا نه لري. ښایي ستاسو لپاره جالبه وي چې موږ د سختیو او ستونزو په هکله خبرې کوو، څو که غواړی بریالي شی، باید دغه حقیقت له پامه ونه غورځوئ چې ډېری بریالیو کسانو د ستونزمنو شرایطو په زړه کې وده کړې او بریا ته رسېدلي دي. له ستونزمو شرایطو او سختیو څخه زما موخه، یوازې ناخوښ مالي شرایط نه دي، بلکې دغه شرایط کېدای شي کمزوری مالي وضعیت، ناروغي، د ملګرو او عزیزانو له لاسه ورکول، ماتې خوړل او یا بل هر څه وي. ډېری له موږ څخه خپلې موخې ته د رسېدو لپاره ډېرې هڅې کوو، خو کله چې له ستونزې سره مخ کېږو او مخ پر وړاندې تګ مو سختېږي، له خپلو هڅو لاس اخلو او تسلیمېږو. په داسې حال کې چې بریالي کسان په دا ډول شرایطو کې بل ډول غبرګون ښیي او هېڅکله نه تسلیمېږي. دا چې ډېری کسان ژر تسلیمېږي، لامل یې دا دی چې هغوی فکر کوي ګواکې چې بریالیتوب له ستونزو او سختیو ګاللو پرته لاسته راځي او فکر کوي چې بریا ته د رسېدو مسیر یې باید له خنډونو او لوړو ژورو خالي وي. په داسې حال کې چې دا ډول یو څه حقیقت نه لري.

د مغز او اعصابو وتلی ایرانی ډاکټر او جراح، پروفیسور مجید سمیع وایي، ځینې کسان پر دې باور دي چې پیاوړیتوب، هېڅکله د درد د نه احساسولو په مانا دی؛ خو په حقیقت کې تر ټولو پیاوړي خلک هغه دي چې درد حس کوي، درد پېژني او درد په ورین تندي مني.

تاسو که هره غوښتنه یا موخه ولری، ښایي خپلې موخې او غوښتنې ته د رسېدو په لاره کې له ستونزو سره مخ شی؛ خو همدا له ستونزو او خنډونو سره ستاسو د مخ کېدو او د هغوی پر وړاندې د غبرګون ښودلو طریقه ده، چې ستاسو د ژوند کیفیت جوړوي. په حقیقت کې په ستونزمنو شرایطو کې تاسو دوه انتخابه لری؛ لومړی: تسلیم شئ او له هر څه لاس واخلئ. دویم: دوام ورکړئ او ماتې مه منئ.

په دې برخه کې غوره بېلګه هغه ناروغان دي چې د سرطان په څېر پر ځوروونکو ناروغیو اخته کېږي. ډېری دا ډول ناروغان چې پر سختو ناروغیو اخته کېږي، شرایطو ته تسلیمېږي او ژر یا وروسته له پښو لوېږي. خو هرو مرو مو په ورځپاڼو، اخبار او یا رسنیو کې لیدلي او اورېدلي دي، چې ډېری داسې کسان هم شته چې د سرطان په څېر له سختو ناروغیو سره مبارزه کوي او ان ناروغۍ ته ماتې ورکوي. دا هغه ډله کسان دي چې دویمه ټاکنه غوره کوي.

دویمه ټاکنه دا ده چې خپل همت له لاسه ور نه کړئ او پر دې باوري اوسئ چې یادې ستونزمنې او له سختیو ډکې ورځې به تېرېږي او بالاخره به له ښو ورځو سره مخ کېږی. نو په خپل ټول وس او توان سره د خپلو مالي شرایطو د ښه کولو، له ناروغۍ څخه د ښه کېدو، په ازموینه کې د بریالي کېدو، د خپل کاروبار د ښه کولو او بل هر ناخوښ وضعیت د ښه کولو لپاره مبارزه وکړئ او باوري اوسئ چې دغه ټول ناخوښ شرایط ستاسو خوا ته ځکه راغلي څو تاسو لا پیاوړي کړي او هغه مقام او موقف ته مو ورسوي، چې وړتیا یې لری.

فرېدریش نیچه وایي، د اړتیا په صورت کې نه یوازې دا چې ستونزې او لوړې ژورې په ورین تندي وزغمئ، بلکې له هغوی سره مینه وکړئ. که فکر کوی چې د ستونزو او سختیو زغمل درته اسان نه دي، لاندې لارښوونې پر ځان عملي کړئ:

**لومړۍ حللاره: له منفي فکره انسانانو لرې اوسئ**

له هغو کسانو سره له ناستې ولاړې ډډه وکړئ چې له خپل ژونده ستړي دي، نا شکره دي او فکر کوي چې هېڅ بخت او چانس نه لري او ګواکې چې ټولې نړۍ د هغوی پر ضد لاس یو کړی او یا دا چې بدبختۍ تل د هغوی خوا ته راځي. ځکه دغه ډول کسان د دې لامل کېږي څو تاسو هم د بېچارګۍ او له ژوند څخه د خوښ نه اوسېدو احساس وکړئ او کله چې له کومې ستونزې او سختۍ سره مخ کېږی، له خپل ژونده شکایت کوی او خپل بخت او چانس ته بدې ردې وایئ.

په دا ډول شرایطو کې تر ټولو غوره کار دا دی څو د خپل ژوند د منفي فکره خلکو ځای هیلهمنو او مثبت فکر لرونکو خلکو ته ورکړئ. که مو له بیا بیا هڅو وروسته هم ونشوای کولای چې د خپلې شاوخوا خلک پر دې راضي کړئ، چې نور دې منفي فکر کوي، بیا نو تر ټولو غوره لاره له هغوی څخه ځان لرې کول دي.

**دویمه حللاره: صبر کول تمرین کړئ**

صبر هغه لویه پانګه ده چې بریالي انسانان یې له ځان سره لري. که چېرې ستیو جابز د خپل ژوند په ستونزمو شرایطو کې چې له پوهنتونه و ایستل شو، بې کوره شو او له ډېرو نورو ستونزو سره مخ شو، شرایطو ته تسلیم شوی وای، د بېلګې په توګه، د ځان وژنې فکر یې کړی وای او یا دا چې ماتې یې منلې وای؛ د خپل ژوند د بدلولو لپاره به یې هېڅ هڅه نه وه کړې.

نن ورځ به ستیو جابز دومره مشهور نه و او هېچا به نه پېژاند. خو نوموړي سمه لاره وټاکله او د ستونزمنو او سختو شرایطو په منځ کې صابر پاتې شو او باوري و چې یوه ورځ به یې ستونزې او سختۍ هرو مرو پای ته رسېږي.

**درېیمه حللاره: هر کله مو چې د ناهیلۍ** احساس وکړ، د بریالیو کسانو ژوند لیک ولولئ یوه بله غوره لار چې په ډېری ستونزمنو شرایطو کې را سره مرسته کوي، د بریالیو کسانو له ژوند لیک څخه ګټه اخیستل دي. کله چې ستونزې او سختۍ فشار را باندې راوړي او احساس کوو چې د ژوند د ستونزو تر درانه بار لاندې یو، غوره ده څو د بریالیو کسانو ژوند لیک ته مراجعه وکړو. ډېری بریالیو کسانو له ستونزو ډک ژوند درلودلی او ډېرې ستونزې یې زغملې دي؛ خو بالاخره ارامۍ او بریا ته رسېدلي دي.

کله چې د یادو کسانو ژوند لولو، پر ستونزو باندې د برلاسي کېدو لپاره مو هیلې زیاتېږي او د زړه له تله پر دې باوري کېږو، دا چې هغوی پر دې توانېدلي څو د ژوند ستونزې او سختۍ شاته پرېږدي، نو موږ ولې نشو کولای. همدا نن ورځ لږ تر لږه څو شېبې له ځان سره فکر وکړئ او خپل ژوند وڅېړئ. کوم شرایط ستاسو د ځور او اندېښنې لامل دي؟ مالي فقر، بد همکاران، بېکاري، ناروغي؟ او یا بل هر عامل چې د دې سبب شوی څو ژوند درته سخت او ستونزمن شي، پام مو وي چې داځه تلپاتې نه دي، بلکې یوازې د دې لپاره ستاسو خوا ته راغلي څو تاسو لا ډېر پیاوړي کړي او ژوند کولو ته مو هیلې در وبښي. نو پر ځان باور ولرئ او هېڅکله ستونزمنو شرایطو ته مه تسلیمېږئ. تاسو پیاوړي یاست، تاسو بریالي کېږئ. یوازې اړتیا ده څو زغم ولرئ او په مثبت فکر او بشپړې هیلهمندۍ سره خپل ژوند پر مخ بوځئ.

# د بشري حقونو کمېسیون: طالبانو د غزني په مالستان کې لسګونه ملکیان وژلي

وروسته له هغې چې طالبانو نږدې یوه میاشت وړاندې د غزني ولایت مالستان ولسوالي تر خپلې ولکې لاندې را وروسته، داسې راپوورونه خپاره شول چې ګڼ شمېر ملکي وګړي د طالبانو له خوا وژل شوي دي. د ولسوالۍ یو شمېر اوسېدونکي وایي، چې طالبانو د هغوی خپلوان وژلي دي. د همدې ولسوالۍ اوسېدونکی عصمت الله وایي، چې طالبانو د هغه ٦٠ کلن پلار چې یو کروندګر و، وواژه او د خپلو حاصلاتو د پلور ۲۵۰ زره افغانۍ یې هم ځینې وړي دي. د نوموړي په خبره: «زما پلار ۲۵۰ زره افغانۍ چمتو کړې وې. موږ دواړو غوښتل هند ته ولاړ شو یا جرمني ته. لنډه دا چې کله چې هغه د طالبانو لاسته ولوېد سره له دې چې پلار مې یو ملکي کس و، خو طالبانو هغه شهید کړ او پیسې یې هم ترې واخیستلې.» په ورته مهال د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په دې وروستیو کې دا ډول تورونه او دغه شان د رسنیو راپوورونه مستند کړي دي. دغه کمېسیون په دې اړه خپل راپور خپور کړی دی. د راپور له مخې، طالبانو د چنګاښ په ۱۹مه د غزني په مالستان ولسوالۍ کې له حملې وروسته، د خلکو په کورونو چاپې ووهلې او یو شمېر ملکي وګړي یې ووژل. دغه کمېسیون لیکلي، طالبانو ۴۸ کسان وژلي چې له دې ډلې ۲۷ کسان پېژندل شوي چې ملکي وګړي دي. په دوی کې یوه ښځه وه. د راپور له مخې، لس نور ملکي وګړي ټپیان شوي دي. د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون په وینا، طالبانو د امنیتي ځواکونو او ولسي پاڅونونو سره ترړلي ۲۱ نور کسان هم وژلي دي. د راپور له مخې، دا لا روښانه نه ده چې ایا دا کسان له طالبانو سره په جګړه کې وژل شوي او یا تر نیول کېدو وروسته. د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون د مطبوعاتو د برخې مشر ذبیح الله فرهنګ وایي: «د مالستان ولسوالۍ څخه زموږ موندنې ښیي چې طالب جنګیالیو له ملکي وګړو سره د جنګ د اصولو او قواعدو سره سم چلند نه دی کړی. دوی د ملکي وګړو د وژنو او د خلکو ترمنځ د وېرې او ډار د رامنځته کولو لامل شوي او دا زموږ لپاره د جدي اندېښنې وړ مساله ده.»

د کمېسیون موندنې دا هم ښیي چې تر دې دمه دوه زره او پنځه سوه کورنۍ له مالستانه کابل، جاغوري او ناوې ولسوالیو ته بې ځایه شوي دي، خو طالبانو د غزني په مالستان ولسوالۍ کې د ملکي وګړو وژل رد کړي دي. د دې ډلې ویاند ذبیح الله مجاهد وایي چې دغې ډلې هېڅ ملکي وګړي نه دي وژلي او دا راپور ناسم دی. د یادونې ده چې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون تر دې وړاندې هم ویلي وو چې طالبانو د کندهار په سپین بولدک ولسوالۍ کې د خپلو قومي تربګنیو پر بنسټ خلک په غچ کې وژلي دي، خو طالبانو دا تورونه بې بنسټه وبلل.

# له اوربند سره سره؛

## راپورونه: د اسراییل پوځ پر غزې درنه هوایي بمباري کړې ده

د اسراییل پوځ وایي، وروسته تر هغې یې په غزې کې د حماس پر نظامي مرکزونو او د راکټ توغولو پر یوه سیمه هوایي بمبار کړی، چې له غزې نه د اسراییل لوري ته اور بلوونکي بالونونه واستول شول. د دغه هېواد د پوځ په اعلامیې کې ویل شوي چې دا بالونونه د اسراییل په جنوب کې د اورلګېدنې سبب شوي دي. د اسراییل د اور وژنې د اداري مسوولینو ویلي چې د بالونونو له کبله د په څلورو ځایونو کې اورونه بل شوي وو.

که څه هم تر اوسه د دې اورلګېدنې له کبله د مرګ ژوبلې په اړه څه نه دي ویل شوي، خو د اسراییل د پوځ په اعلامیې کې ویل شوي چې په غزې کې د راکټ توغولو سیمه د ملکي خلکو له کورونو سره نږدې ده.

په اعلامیې کې ویل شوي چې له دې نه



معلومېږي چې حماس فلسطینیان په خطر کې اچوي. د فلسطین د حماس او اسراییل تر منځ د مې میاشتې د ۲۱ مې نېټې له اوربند راهیسې د دواړو لورو تر منځ څو نورې

پېښې هم شوي چې د اور بلوونکو بالونونو استول هم پکې شامل دي.

د اسریيل او حماس تر منځ په وروستۍ جګړې کې ۲٦٠ فلسطینیان ووژل شول

چې د غزې د چارواکو په وینا، یو څو تنه یې وسله وال هم وو، خو په اسراییل کې بیا پولیسو او پوځ ویلي چې د حماس د راکټونو په بریدونو کې یوازې ۱۳ کسان وژل شوي چې یو یې د اسراییل عسکر و او پاتې نور یې عادي خلک وو. له غزې نه پر اسراییل اور بلوونکي بالونونه داسې مهال توغول کېږي چې تر دې یوه ورځ وړاندې په لبنان کې د حزب الله وسله والې شعیه ډلې پر اسراییل ګڼ توغندي وتوغول او د اسراییل هوایي ځواکونو یې په ځواب کې پر لبنان هوایي بریدونه وکړل. د اسراییل پوځ ویلي چې دغه بریدونه یې د حزب الله د توغندیزو بریدونو په غبرګون کړي او په خبره یې، د دغې ډلې ګڼ جنګیالي او پوځي مورچې پکې په نښه شوي دي. خو حزب الله ډلې بیا د اسراییل دغه ادعا رد کړې ده. د یادونې ده، حزب الله ډله چې ایران یې تر شا ولاړ دی، د حماس ملګرې ډله ده او وخت ناوخته پر اسراییل د راکټونو او توغندیو بریدونه کوي.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین

او حشمت الله نوري

**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

**چاپخونه:** وایګل چاپ

0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کيفيت او چټک خدمات په
وايګل چاپ کې تجربه کړئ!

وايګل چاپ
WAYGAL Printing Co.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

یک شنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۱۷مه | د ۲۰۲۱ د اګسټ ۸مه | ۷۵۸مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۴ | ۳۶ | ۴۰ | ۳۹ | ۳۹ | ۳۱ |
| ۱۹ | ۲۵ | ۲۵ | ۲۸ | ۲۵ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۳۴ | لمر ختل ۰۵:۰۹ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰۴:۵۰ | ماښام ۰۶:۴۹ | ماخوستن ۰۸:۲۳

## نړی



# راپورونه: د اسراییل پوځ پر غزې درنه هوايي بمباري کړې ده

له اوربند سره سره؛

۵

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر له ۲۰۲ میلیونه او ۵۹۷ زرو واوښت


د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۲۰۲ میلیونه او ۵۹۷ زره او ۱۳۴ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله څلور میلیونه او ۲۹۴ زره او ٦۵۳ کسان مړه شوي او له ۱۸۲ میلیونو ډېر تري ېبرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتي پېښې ۳٦ میلیونه او ۴۴۷ زره او ۱۲۳ ته رسېدلي او ٦۳۲ زره او ٦۴۱ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۳۱ میلیونه او ۸۹۵ زره او ۳۸۵ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۲۰ میلیونه او ۱۰۸ زره او ۷۴٦ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د شپږ میلیونه او ۴۲۴ زره او ۸۸۴ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او فرانسه د شپږ میلیونه او ۲۵۸ زره او ۹۵۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.

بریتانیا، ترکیه، ارجنټاین، کولمبیا او هسپانیا بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## روسي چارواکي: په ګازپروم شرکت کې له اورلګېدنې وروسته د ګازو صادرات د پام وړ کم شوي



د روسیې ګازپروم دولتي شرکت اعلان کړی چې د سایبریا په لوېدیځ کې د دغه هېواد د ګازو د پروسس په تاسیساتو کې د اور لګېدنې له پېښې وروسته بهر ته د ګازو د صادرولو بهیر پڅ شوی دی.

د راپورونو له مخې، نووي اورېنګوی سیمې ته نږدې په دې اورلګېدنه کې چا ته زیان نه دی اوښتی، خو روسي رسنیو اعلان کړی چې د بېلاروس او پولنډ له لارو بهر ته د روسیې د ګازو په صادراتو کې د ورځې یو میلیون مکعب متر کموالی راغلی دی.

دا په داسې حال کې ده چې ګازپروم شرکت له دې مخکې د یامال- اروپا د ګازو د پایپ‌لاین په وسیله له یامال ټاپو وزمې څخه د بېلاروس له لارې جرمني ته د روان ۲۰۲۱ میلادي کال په وروستیو دریو میاشتو کې په لږه کچه د ګاز صادرات پلان کړي وو.

په ورته مهال د روسیې د ګازپروم شرکت چارواکي وایي چې د دې اور لګېدنې د علت د معلومولو په موخه یې څېړنې پیل کړې دي او د دغو څېړنو له پای ته رسېدو وروسته به یې پایلې ډېر ژر له رسنیو سره شریکې کړي.


## لاینز: در صورت عدم‌توجه به وضعیت کنونی، ممکن است افغانستان به سرنوشت سوریه دچار شود



دیبورا لاینز، نمایندۀ ویژۀ دبیرکل سازمان ملل متحد برای افغانستان در نشست فوق‌العادۀ شورای امنیت سازمان ملل که در مورد افزایش خشونت‌ها در افغانستان برگزار شده بود، می گوید که این کشور وارد مرحلۀ خطرناک شده و در صورت عدم‌توجه به این وضعیت، ممکن است افغانستان به سرنوشت سوریه دچار شود. بانو لاینز در این نشست خواستار نقش فعال سازمان ملل در پیش‌برد گفت‌وگوهای صلح شده و تأکید کرده است که اگر پیش‌رفتی در این راستا به میان نیاید، تحریم‌ها بر سفر نماینده‌گان طالبان باید تمدید شود. نماینده‌گان کشورهای عضو سازمان ملل نیز در این نشست خشونت‌ها در افغانستان را محکوم کرده و خواستار آتش‌بس فوری و ایجاد یک راه‌حل سیاسی شده‌اند. در همین حال، آگاهان امور سیاسی نشست شورای امنیت سازمان ملل در مورد افغانستان را با درنظرداشت وضعیت جاری کشور کارساز نمی‌دانند و می گویند که این نشست نتوانسته است توقعات را برآورده کند. حکیم ناظم، آگاه امور سیاسی در کانادا می‌گوید، افغانستان انتظار داشت در این نشست فعالیت گروه‌های تروریستی داخلی و بین‌المللی محکوم شده و هم‌چنان بر پاکستان به‌عنوان حامی تروریستان فشار آورده شود تا مانع ورود گروه‌های تروریستی به افغانستان شوند، اما چنین نشد. سیدباقر محسنی، آگاه روابط بین‌الملل نیز می‌گوید که در این نشست تنها به توصیه‌ها بسنده شد که این توصیه‌ها هیچ تأثیری روی وضعیت جاری افغانستان ندارد. به گفتۀ او، تنها صدور بیانیه کارساز نیست و برخی از اعضای برجستۀ شورای امنیت با طالبان تبانی می‌کنند.

## ژوند


## دغه خواړه د ذهني فشار لپاره ګټور دي



آیا پوهېږی چې د غذايي توکو لرونکي خواړه د ذهني روغتیا لپاره ګټور دي؟ د دې لپاره چې ښه روغتیا ولرو، اړینه ده چې ښه خوراک وکړو او په خپلو خوراکي توکو کې مېوې، سبزیجات، غلې دانې، دال، لوبیا، غوښه او لبنیات استعمال کړو. دا خبره کول دومره آسانه نه ده چې کوم ډول خوراکي او د څښاک توکي د ژور خپګان د درملنې لپاره ګټور وي، خو د دې خبرې کول بیا آسانه دي چې د غذايي توکو لرونکي خواړه د ذهني روغتیا لپاره ګټور وي او دماغو ته غوره‌والی ور په برخه کوي. ویټامینونه او معدني مواد هغه څه دي چې د دماغو په روغتیا کې مهم رول لوبوي، په ځانګړې توګه ویټامین سي، ویټامین ډي او د بي ویټامینونه او په معدني موادو کې میګنیزیم، سیلینیم او زنک یې ډېر ګټور دي. دغه راز کاربوهایډریټ یا نشایسته هغه څه دي چې دماغو ته ځواک ورکوي او امینو اسیدونه یانې پروټین هم د دماغو د نیوروټرانسمټرز د پیداوار لپاره اړین وي، چې د پیغام رسونې په برخه کې مهم رول لوبوي.

## شیاومي تر سکرین لاندې کامره لرونکی موبایل معرفي کوي

سامسُنګ کمپنۍ رسماً اعلان کړې چې د اګست په ۱۱مه به خپل نوي قاتېدونکي مخ‌پاڼې لرونکي ځیرک موبایلونه چې سږکال به د ګلکسي نوټ لړۍ پر ځای وړاندې کېږي، معرفي او خرڅلاو ته وړاندې کړي. دغو ځیرکو موبایلونو کې به ګلکسي زي فولډ۳ د سامسُنګ کمپنۍ لومړنی مخ‌پاڼې لاندې سېلفي کامره لرونکی ځیرک موبایل وي. خو اوس شیاومي کمپنۍ د اګست په ۱۰مه یوه رسمي غونډه اعلان کړې چې پکې به خپل نوی ځیرک موبایل او ټبلېټ څېلو مینه‌والو ته ور وپېژني. که څه هم په دې اړه چې شیاومي کمپنۍ به دغه غونډه کې کوم ځیرک موبایل وړاندې کوي، څه نه دي ویل شوي، خو اټکل کېږي چې دغه ځیرک موبایل به شیاومي مي مېکس۴ وي. دا به د شیاومي کمپنۍ هم لومړنی مخ‌پاڼې لاندې سېلفي کامره لرونکی



ځیرک موبایل وي. د افشا شویو معلوماتو پر بنسټ، دغه ځیرک موبایل به ٦,٦۷ انچه اولېډ ډوله مخ‌پاڼه، د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۸۸۸ یا سنپ ډراګن۸۸۸ پلس ډوله پروسېسر، ۱۲ ګېګابایټ رم، ۵۱۲ ګېګابایټ د فایل ثبتوني وړتیا او ۵۰۰۰ ملي امپیره له ۱۲۰ واټ چټک چارج څخه ملاتړ کوونکې بېټرۍ ولري.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه

عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.

www.azizibank.af 1515

عزیزی بانک
Azizi Bank